دو فصلنامۀ
مجلۀ علمی- تحقیقی عینک – علمي څېړنيزه شپږ مياشتنۍ
د امتياز خاوند: لوګر پوهنتون
د مجلې د جواز نېټه: ۱۴ / ۱۱/ ۱۴۴۴

# په افغاني ټولنه کې د ګڼونکاحګانوحکمتونه

**ليکوال: نامزد پوهنيار فخرالدين حامدي**

د اسلامي تعليماتو څانګه، شرعياتو پوهنځی، لوګر پوهنتون افغانستان

**برېښناليک:** fakhroodinhamidi@gmail.com

**لنډيز**

**د مسئلې بيان:** په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاحګانو مسئله يوه مهمه ټولنيزه، شرعي او فرهنګي موضوع ده. دا موضوع د ښځو د حقونو، د سړيو د مسؤليتونو او هم د ټولنيز توازن اړخ لري. نو اړتيا ده چې نکاح او د دې اړوند موضوع د ګڼونکاح ګانو حکمتونه په افغاني ټولنه کې د شرعي دلايلو، ټولنيزو اړتياوو او افغاني واقعيتونو په رڼا کې وڅېړل شي.

**د څېړنې موخه:** په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاح ګانو د حکمتونو پېژندنه او د اسلامي احکامو په رڼا کې د نکاح ډولونه.

**د څېړنې تګلاره:** مواد اوڅېړندود: دا څېړنه کيفي ده چې د قرآن کريم د آيتونواو د رسول اکرم ﷺ د احديثونو په تحليل اوپه افغاني ټولنه کې د ګڼونکاحګانوپه اړه د فقهاوو د نظرونو او دليلونوڅخه ګټه اخېستل شوې ده.

**پايله :** دا څېړنه څرګندوي چې له يوې ښځه د زياتو نکاحګانو اجازه د اسلامي شريعت له اصولو سره سم د حکمت، عدالت، تقوی او ټولنيز ثبات لپاره ورکړل شوې ده. د ګڼونکاح ګانو بنستيزه موخه په افغاني ټولنه کې د بې سرپرسته مېرمنو د ساتنې، د جنسي انحرافاتو مخنيوی، د عفت پالنې او د انساني ټولنې د متوازن پرمختګ تأمين ګڼل کېږي په افغاني ټولنې کې د ګڼونکاح ګانو بېلابيل اسلامي، فرهنګي، اوکلتوري لاملونه لری چې د مقالې په متن کې پرې بحث شوی دی.

**کليدي کليمې**: اسلامی فقه ،افغاني ټولنه ، حکمونه ، ګڼې نکاحګانې

**استناد:** حامدي، فخرالدين. (۱۴۰۴) په افغاني ټولنه کې د ګڼونکاح ګانوحکمتونه. *دوفصلنامۀ علمی- تحقیقی* **عینک** *علمي*- څېړنيزه مجله، دريم کال، ۵ ګڼه، صفحه ۲۶۹-۲۸۷ :DOI

ناشر: پوهنتون لوګر
حق‌مؤلف © نويسندگان.

## سريزه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰالَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلٰى آلِهِ وَاصَحٰابِهِ أَجْمَعِينَ، وَبَعْدُ!

الله جَلَّ جَلَالُهُ حکيم ذات دی او د خپل حکمت پربنسټ يې د انسانانو لپاره اسماني کتابونه او رسولان رالېږلي دي، څو د انسانانو فزيکي او روحاني معالجه وکړي، ټولنيز فساد له منځه يوسي او د فساد زمينه ختمه کړي . دا چې ټولنه د تلې (ترازو) حيثيت لري ، د سړيو او ښځوڅخه جوړه شوې ده. نو ښځينه د کور داخلي نظام په جوړولو او نارينه د خپلو مېرمنو او اولادونولپاره د حلالې روزي ګټلو لپاره هر ډول مشقت قبلوي ،څو خپلو اولادونو لپاره يوڅه لاس ته راوړي . په همدې بنسټ دواړه (نارينه اوښځينه) په کورني نظام کې مهم رول لوبوي.

زموږ د هېواد د څلورلسيزو د ناخوالوپه راتلوسره د ښځينه وو په پرتله د نارينه و د تلفاتو لاملونه ډېر دي يو لامل يې په هېواد کې بهرنۍ اشغال اوکورنۍ جنګونه دي،چې د سړيو د لږېدو سبب شو. په دې اړوند رسول الله ﷺ په حديث شريف کې اشاره کړې ده.

« عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يُحَدِّثُكُمْ بِهِ أَحَدٌ غَيْرِي: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ العِلْمُ، وَيَكْثُرَ الجَهْلُ، وَيَكْثُرَ الزِّنَا، وَيَكْثُرَ شُرْبُ الخَمْرِ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً القَيِّمُ الوَاحِدُ»[۱]

ژباړه: له حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی وايي؛ ما له رسول الله ﷺ نه اورېدلي له نښو د قيامت څخه دا ده چې علم به اوچت کړی شي، جهل به زيات شي، زنا به زياته شي، د شرابو څښل به زيات شي، سړي به لږ شي او ښځې به ډېرې شې، تر دې پورې چې د پينځوسو ښځو به يو سړی سرپرستي کوي او په بل روايت کی راغلي: عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: وَلَا يُحَدِّثُكُمْ بَعْدِي أَحَدٌ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ، وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ، وَأَنْ تُشْرَبَ الْخَمْرُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ»[۲]

ژباړه: انس رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل، هغه وفرمايل:

---

۱ بخاري ، صحيح البخاري ، ج ، ۷ ، ص ، ۳۷ ، دار طوق النجاة ، ۱٤۲۲ ه

۲ أبو بکر ، عبد الله بن محمد، مصنف في الأحاديث والآثار ج ، ۷ ، ص ٤٦٦ ، مکتبة الرشد ، ۱٤۰۹.

زما له وفات وروسته به هېڅوک تاسې ته دا حديث وانه وري چې ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلی وي هغه داچې: د قيامت له نښو څخه دا دي چې علم به پورته کړل شي، ناپوهي به ښکاره شي، شراب به وڅښل شي، زنا به عام شي، سړي به لږ شي او ښځې به ډېرې شي چې په دې سره د ټولنيز نظام تعادل له ګواښ سره مخ شو، ځکه چې نارينه لږ او ښځې ډېرې شوې اوس به دغه بې سرپرسته ښځې اويتيمان څه کوي؟

د بې سرپرسته ښځو ژوند به د ملاماتوونکو غمونو او ستونزو سره تېرېږي او يا به د خپلو فطري غوښتنو لپاره بداخلاقي (بې حيايي او فحشا) ته مخه کړي چې په دې سره به ټولنه فساد سره مخ شي. د دې فساد د مخنيوي او د ټولنيز نظام د تعادل ساتلو لپاره الله ﷻ د خپل حکمت پر اساس د يوه نارينه لپاره تر څلورو ښځو د نکاح کولو اجازه ورکړې ده.

د ګڼو نکاحګانو حکم يوازې د اسلامي دين ځانګړنه، نه ده ؛ بلکې په نورو امتونو کې هم جايز ګڼل کېده لکه د مصر، هند، فارس او يونانيان چې د نکاح ګڼوالی يې د خلکو دود ګرځېدلای و. ځېنو قومونو ټاکلې شمېرو پورې محدوديت نه درلود او د ښځو شمېر يې تر لسو او شلو پورې رسېده.

**د مسئلې بيان:** په افغاني ټولنه کې د نکاح موضوع نه يوازې شرعي اړخ لري، بلکې دا يوه ټولنيزه، اخلاقي او فرهنګي اړخ هم لري. د څو نکاحګانو بحث له اسلامي شريعت سره مستقيم تړاو لري او دا عمل د قرآن ، سنتو او د فقهاوو د مسائلو له مخې تر يو شمېر شرايطو لاندې مشروع ګڼل شوی. په افغاني ټولنه کې د بېلابېلو ټولنيزو عواملو ، لکه د ښځو زياتوالی، بې سرپرسته کونډې د فحشا مخنيوي او د دې اړوند مسائل . له دې امله د ګڼو نکاحګانو اړتيا رامنځته شوه؛ نو اړينه وګڼل شوه چې په دې اړوند يوه مقاله وليکل شي او د افغاني ټولنې ستونزو ته د شرعي حکم له نظره حل وړاندې کړي .

**د موضوع ارزښت:** په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاحګانو ګټې حکمتونه اومصلحتونه يوه خورا ارزښناکه موضوع ده ، له دې لارې څخه کولای شو ،چې د ګڼو نکاحګانو په اړه د مستشرقينو او ملحدينو هغه بې ځايه شکونو ته د اسلامي شريعت په رڼا کې قناعت ببنونکی ځواب پيداکړو ، څومسلمانان يې له شر څخه خلاص شي چې د هغوی له لوري وخت پر وخت پر مسلمانانو واردېږي.

**د څېړنې مخینه:** په دي اړوند علماوو لیکنې کړې وې، یا ډېرې مختصرې اویا یې هم په عربي یا فارسي ژبې سره وې چې عامو خلکو به ګټه ترې اخېستلای نه شوه د بېلګې په شکل یوڅو نمونې یې ذکرکوو.

یوه مقاله په نوم د رفع الابهامات حول تعدد الزوجات د شیخ محمد علي صابوني.

دویمه مقاله په نوم د الزواج مثنی وثلاث ورباع د الدکتور مازن صلاح مطبقاني.

دریمه مقاله په نوم د الاسرة وقضایا الزواج الدکتور علي القائمي .

علت تعدد ازدواج پیامبر ﷺ نویسنده : محمدشریف صمدی.

اود دې ټولنې د ستونزو د حل لاره او د ننۍ ټولنې د غوښتنې سره موافقت نه درلود.

نو له دې وجې مناسبه وګڼله شوه چې یوه مقاله ولیکلی شې څو د دې زمانې د افغاني ټولنې د غوښتنې سره مناسب د فقهاوو او عصري علماوو، مفتیانو، د اقوالو په رانقلولو د ټولنې د مشکلاتو د حل لپاره او د لاندې څېړ نیزو پوښتنو لپاره ځواب شې .

**دڅېړنې موخې**

**اصلي موخه:** په افغاني ټولنه د ګڼو نکاحګانو د حکمتونو د ګټو او ارزښت بیانول.

فرعي موخي:

۱- په لنډه توګه د نکاح پېژندل .

۲- د ګڼو نکاحګانوپه افغاني ټولنه کې فایدې او ګټې بیانول .

۳- د ګڼونکاحګانو لپاره شرایط او قیودات واضح کول .

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه:** په افغاني ټولنه کې ګڼې نکاحګانې کومې ګټې او حکمتونه لري؟

**فرعي پوښتنې:**

۱ –نکاح څه ته ویل کېږي او ولې مشروع وګرځېده؟

۲_ په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاحګانو اصلي محرکات او لاملونه څه دي؟

۳ –د زیاتو نکاحګانو د جواز حکمتونه په افغاني ټولنه کې څه دي؟

۴–اسلامي شریعت د زیاتو نکاحګانو اړوند څه لارښوونه لري؟

**لومړی مبحث (د نکاح پېژندنه او ارزښت)**

**اول مطلب : د نکاح لغوي او اصطلاحي تعریف**

نکاح په لغت کې د ضم (پیوستون) یا وطی (کوروالی) په معنا سره استعمالیږي، د مېړه او ښځې یو ځایوالی ته نکاح ځکه ویل کیږي چې د کوروالي په حالت کی یو له بل سره داسې پیوستیږي ، لکه د یو بدن غړی [۱]. او په اصطلاح کې نکاح : النِّكَاحُ عَقْدٌ يُفِيدُ مِلْكَ الْمُتْعَةِ بِالأُنْثَى قَصْدًا)[۲] ژباړه: دا نکاح یو عقد دي چې وارديږي په مالک کېدلو د نفعي اخېستلو په اعتبار د قصد سره.

**د نکاح *ارزښت*:** په اسلام کې د نکاح په ډېر لوړ مقام او ارزښت يادونه شوې، ځکه چې دا عمل نه يوازې فردي پاکوالی او عفت تضمينوي، بلکې د ټولنې د روغتيا، د نسل پايښت او د کورني نظام د جوړښت بنسټ هم برابروي.

د نکاح ارزښت له قرآن او حدیث نه هم ثابت دی: الله تعالی فرمايلي دي ( وَأَنْكِحُوا الأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ ) هَذَا أَمْرٌ بِالتَّزْوِيجِ. وَقَدْ ذَهَبَ طَائِفَةٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ إِلَى وُجُوبِهِ، عَلَى كُلِّ مَنْ قَدَر عَلَيْهِ[۳]

ژباړه: په نکاح ورکړئ له خپلو مجردو کسانو څخه او له خپلو نېکو غلامانو او وينځو څخه ، دا يو امر دی د نکاح کولو لپاره (يعنې الله تعالی د نکاح کولو امر کړی دی) يوه ډله علما دا نظر لري چې دا امر د وجوب لپاره دی، پر هغه چا چې توان او طاقت يې ولري (يعنې څوک چې توان لري، پر هغه نکاح کول واجب دي). اوبل ځای يې فرمايلي دي : وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا [٤]

ژباړه: او د هغه له نښو دا ده چې ستاسې له نفسونو يې تاسې ته مېرمنې پيدا کړې، څو ورسره سکون ومومئ.

**۲- نبوي حديث :** قال النبي ﷺ، يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ.[٥]

ژباړه: ای د ځوانانو ډلي! څوک چې توان لري، نکاح دې وکړي.

---

۱ المعجم الوسيط ج۲/ ص ۹۵۱) دار الدعوة١٤٩٧

۲ ابن عابدين ، محمد أمين ( رد المحتار ج2/ ص258) دار الفكر للطباعة 1412

۳ أبو الفداء ،إسماعيل ( ابن كثير ج ٦/ص ٥١) دار طيبة للنشر ١٤٢٠هـ - ١٩٩٩ م

٤ (سورت روم: 21)

٥أبو الفضل، احمد ، فتح الباري:ج ۹ ، ص١٢٠ ، دار المعرفة ، بيروت ، ١٣٧٩.

**۳- نکاح د نبوي سنت برخه ده:** نبي کریم ﷺ فرمايلي دي،« عن عَائِشَةَ، قَالَتْ،قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي، فَمَنْ لَمْ يَعْمَلْ بِسُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي، وَتَزَوَّجُوا، فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ ، وَمَنْ كَانَ ذَا طَوْلٍ فَلْيَنْكِحْ، وَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَعَلَيْهِ بِالصِّيَامِ، فَإِنَّ الصَّوْمَ لَهُ وِجَاءٌ» [1]

ژباړه: د عایشي رضی الله عنها نه روایت دی هغي وویل ، د الله رسول ﷺ وفرمایل، واده زما له سنتودی ؛ نوهرڅوک چي زما د سنتو پیروي ونه کړي زما له ډلې نه دی. واده وکړئ ، ځکه زه ستاسي له لارې امتونه زیاتوم اوڅوک چي اوږد عمر لري، نو واده دې وکړي که پیدا نه شي ، نو روژه دې ونیسي ، ځکه روژه د هغې لپاره مخنیوی دی او نکاح د شتمنی سبب گرځي الله ﷻ په سورة روم کې فرمایلي دي، (إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ) ژباړه: که دوی غریبان (بېوزلي) وي، الله ﷻ به دوی له خپل فضل څخه شتمن کړي، او الله ﷻ پراخ (رزق ورکوونکی) او(په هر څه) پوهه دی. د دې ایه مبارکه په تفسیر کې تفسیر بغوي د حضرت عمر(رضی الله عنه) قول داسې رانقلوي (وَقَالَ عُمَرُ: عَجِبْتُ لِمَنِ ابْتَغَى الْغِنَى بِغَيْرِ النِّكَاحِ، وَاللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ: إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ)[2]

ژباړه : زه تعجب کوم له هغه چا څخه چې غواړي مالدار شي له نکاح پرته ، حال دا چې الله ﷻ فرمایلي دي: 'که دوی غریبان وي، نو الله ﷻ به هغوی له خپل فضل څخه مالدار کړي. دا قول د حضرت عمر (رضی الله عنه) د دې باور ښرگندونه کوي چې نکاح د رزق او برکت یوه وسیله ده او الله تعالی ﷻ د نکاح کوونکو مرسته کوي، حتی که هغوی غریب هم وي.

**دویم مطلب د نکاح رکنونه اوشرطونه**

د نکاح رکنونه دوه دي وَأَمَّا رُكْنُهُ فَالْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ ، كَذَا فِي الْكَافِي وَالْإِيجَابُ مَا يُتَلَفَّظُ بِهِ أَوَّلًا مِنْ أَيِّ جَانِبٍ كَانَ وَالْقَبُولُ جَوَابُهُ هَكَذَا فِي الْعِنَايَةِ [3].

ژباړه : د نکاح رکن ایجاب او قبول دی دا خبره په کتاب الکافي کې یاده شوې. ایجاب هغه الفاظ دي چې د نکاح له دواړو اړخونو څخه هر یو یې لومړی ادا کړي او قبول د هغه ایجاب ځواب ته ویل کیږي. دا تفصیل په کتاب العنایة کې هم راغلی دی. په لنډ ډول: د نکاح اساسي

---

۱ القزویني، محمدبن یزید. سنن ابن ماجه. ج۳. ص٥٤. ط۱. دارالرسالة العالمیة. 1846.
۲ محیي السنة، محمد (تفسیرالبغوي) ج ۳، ص ٤۱۰، دار إحیاء التراث العربي ، بیروت ، ١٤٢٠ هـ
۳ فتاوی هندیه، ج۱، ۲٦۷ص، دار الفکر، ۱۳۱۰ هـ

(شرعي) رکن دا دی چې يو لورى د نكاح وړانديز وكړي (ايجاب) او بل لوري يې ومني (قبول) دا عمل د دواړو خواوو له لوري كېداى شي.

وَقَالَ شَارِحُهُ الزَّيْلَعِيُّ: أَيْ يَنْعَقِدُ النِّكَاحُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ بِلَفْظَيْنِ وُضِعَا لِلْمَاضِي أَوْ وُضِعَ أَحَدُهُمَا لِلْمَاضِي وَالْآخَرُ لِلْمُسْتَقْبَلِ[۱]

ژباړه: شارح زَيْلَعِي رحمه الله ويلي دي: يعنې نكاح د ايجاب او قبول په واسطه منعقدېږي، كه دغه دواړه الفاظ د تېر وخت (ماضي) لپاره وضع شوي وي، يا يو له هغوی د ماضي لپاره او بل د راتلونكي (مستقبل) لپاره وي.

**تشريح**

يعنې نكاح هغه وخت صحيح كېږي، چې ايجاب او قبول دواړه د ماضي له فعلونو سره وشي. (لكه زَوَّجْتُك، قبلتُ)، يا يو يې د ماضي وي او بل د مستقبل (مِثْلُ أَنْ يَقُولَ: زَوِّجْنِي ابْنَتَك فقال زَوَّجْتُك)[۲]

د نكاح لپاره ګڼ شرطونه دي چې مشهورشرطونه يې دادي .

۱- رضا او خوښه (رضاء الطرفين) د نكاح د طرفينو (نارينه او ښځينه) رضا اړينه ده.

څكه چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي ،چې«لا تُنكَح الأيمُ حتى تُستأمر، ولا تُنكَحُ البكرُ حتى تُستأذن» [۳]ژباړه: بې مېړه ښځه مه نكاح كوئ څو چې امر يې وانه خېستل شي او پېغله تر هغو مه نكاح كوئ ،چې اجازه يې وانه خېستل شي.

۲- ولي (سرپرست) ښځه بايد د خپل ولي په اجازې سره نكاح وكړي.

څكه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي ،چې «لا نِكَاحَ إلا بِوَلِيٍّ »[۴]

ژباړه: نكاح له ولي پرته صحيح نه ده.

۳- دوه عادل مسلمان شاهدان د نكاح د صحت لپاره بايد حاضر وي .

څكه نبي كريم ﷺفرمايلي دي ،چې قال النبي ﷺ،« لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَيْ عَدْلٍ »[۵]

---

۱ زيلعي ، عثمان ، تبيين الحقائق ج 2 ، ص ۹۴ ، القاهرة ، ۱۳۱۳ ه

۲ ابن نجيم الحنفي ، زين الدين ، بحرالرائق ، ج ۳ ، ص ۸۷ ، دار المعرفة بيروت . ب ، ت.

۳ مستخرج أبي عوانة ، ج ۳ ، ص ۷۲ ، دار المعرفة ، بيروت، ۱۴۱۹هـ - ۱۹۹۸م.

٤ ترمذي، أبو عيسى ، الترميذي، ج ۲ ، ص ۳۹۸ ، دار الغرب الإسلامي ، بيروت ۱۹۹۸ م.

۵ أحمد بن الحسين ، البيهقي، ج ۷ ، ص ۱۱۱ ، مكتبة دار الباز ، مكة المكرمة ، ۱۴۱۴ - ۱۹۹۴

ژباړه: نکاح یوازې د ولي او دوو عادل شاهدانو سره صحیح دی.

**درېیم مطلب: د نکاح ډولونه او حکم**

نکاح د حکمونوله نظره په پېنځه ډوله ده (فرض، واجب، سنت، مکروه، حرام) تفصیل یې د علماوو د اختلافاتو او بیلابیلو حالاتو پر بنسټ ده .

وَهُوَ فِي حَالَةِ التَّوَقَانِ وَاجِبٌ؛ لِأَنَّ التَّحَرُّزَ عَنْ الزِّنَا وَاجِبٌ وَهُوَ لَا يَتِمُّ إلَّا بِالنِّكَاحِ، وَمَا لَا يَتِمُّ الْوَاجِبُ إلَّا بِهِ فَهُوَ وَاجِبٌ، وَفِي حَالَةِ الِاعْتِدَالِ مُسْتَحَبٌّ، وَفِي حَالَةِ خَوْفِ الْجَوْرِ مَكْرُوهٌ [1]

ژباړه: د تَوَقان (شهوت او اړتیا) حالت کې نکاح واجب ده، ځکه چې د زنا څخه ځان ژغورل واجب دي او دا موخه له نکاح پرته نه پوره کېږي، نو هر هغه څه چې یو واجب عمل پرې پوره کېږي، هغه هم واجب وي. په اعتدال (منځلاري) حالت کې نکاح مستحب ده او که د ظلم یا د ښځې د حق د ضایع کېدو وېره وي، نو نکاح مکروه ده .

۱- **فرض نکاح :** نکاح هغه وخت فرض ده ،چې سړی د زنا وېره لري. د نکاح توان (مهر، نفقه، کور...) لري؛ خو نکاح ونه کړي په غالب گومان سره به گناه ته مخامخ کېږي. دلیل: له حراموڅخه د نفس ساتل فرض دی او که دا ساتنه یوازې د نکاح له لارې ممکنه وي، نو نکاح فرض ده.

۲- **واجب نکاح:** هغه وخت چې سړی د نکاح مادي او معنوي توان او قدرت ولري او د نکاح نه کولو په صورت کې په غالب گومان سره مرتکب د کبیرې گناه گرځي نونکاح واجب ده.

یعنی که د زنا وېره دومره ډېره نه وي، خو شهوت غالب وي او د فحش خبرو، نظر یا فکر له لارې گناه ته لاره هوارېږي، نو نکاح پرې واجبه ده.

۳- **سنت نکاح:** که څوک د نفسي خواهشاتود مخنیوۍ توان لري او د زنا وېره نه لري؛ خو د نکاح توان لري، په دې حالت کې نکاح سنت مؤکده ده ( مقصد یې د سنت پیروي او د نسل تولید وي)

۳- **مکروه نکاح:** که څوک د نکاح توان نه لري (نفقه ورکولی نه شي، نه مهر) یا ظالم وي، د ښځې حقونه پوره کولای نه شي په دې حالت کې نکاح مکروهه ده. یا د اولاد او کور مسؤلیت نه شي سر ته رسولای.

---

[1] أكمل الدين ، محمد بن محمد بن محمود ، العناية ج ۳ ، ص ۱۸۹ ، دار الفكر،ب،ت

**۴-حرامه نکاح:** نکاح هغه وخت حرامه ده چې مقصد يې ظلم، ضرر رسول د ښځې سره خيانت يا د شريعت له حدودوڅخه تېرى وي (مثلاً له محارمو سره نکاح، يا دويمه ښځه داسې نکاح کړي چې د اولې ښځې حق ضايع شي).

**دويم مبحث: د زياتونکاح ګانو لاملونه او حکمتونه**

**اول مطلب: د زياتونکاحګانو لاملونه**

په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاحګانو (يعني يو نارينه له څو ښځو سره نکاح کول) لاملونه بېلابېل ديني، ټولنيز او کلتوري اړخونه لري دلته يې مهم لاملونه يادوو.تر دې وړاندې مويادونه وکړه چې د يوه سړي په نکاح کې د زياتو ښځو شتون يوازې په اسلام کې نه، بلکې په مخکينيو اديانو کې هم دود وو، اسلام يوازې د دوى رواجونه تعديل کړل.

دبېلګې په ډول يې يوه نمونه وړاندې کوم : دجاهليت په دور کې د ثقيف د قبيلې يو تن په نوم د غيلان ثقفى لس ښځې لرلې او د اسلام د راوړلو نه وروسته نبى کريم ﷺ ورته د شپږو ښځو د پرېښودو او د څلورو ښځو د ساتلو حکم وکړو. دا موضوع مواطا امام مالک کتاب کې ذکر دي :

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ؛ أَنَّهُ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: لِرَجُلٍ مِنْ ثَقِيفٍ ، أَسْلَمَ، وَعِنْدَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ، حِينَ أَسْلَمَ الثَّقَفِيُّ: أَمْسِكْ مِنْهُنَّ أَرْبَعاً. وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ.[۱]

ژباړه : کله چې غيلان ثقفى ايمان راوړ، نو د ايمان راوړلو نه وړاندې يې لس ښځې په جاهليت کى نکاح کړې وې؛ خو رسول الله ﷺ ورته و فرمايل ،چې څلور ښځې وساته او پاتې نورې ښځې درنه جلا کړه.

**۱- د ښځو د سرپرستی اړتيا:** هغه ښځې چې کونډې، مطلقې يا بې‌سرپرسته وي او د ژوند له هر اړخيزه ستړياوو، ستونزو سره يې شپې ورځې تېرېږي او د نکاح نه غير يې ټولې ستونزې نه حل کېږي اړينه ده چې نکاح وکړي او د نکاح سره يې د عزتمن ژوندزمينه برابره شي په همدې نسبت الله ﷻ په خپل کلام کې فرمايي: وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ[۲]

۱ الأصبحي المدني ،مالك بن أنس بن مالك بن عامر ، المواطا، ج ٤، ص ٨٤٤ ، الإمارات ، ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م
۲سورة النساء آيت 3.

ژباړه: واده ورکړئ خپل مجرد کسان (هغه نارینه او ښځې چې مېړه یا ښځه نه لري)، او نېک (صالح) غلامان او وینځې مو. که هغوی بې وزلي وي، الله ﷻ به دوی له خپل فضل نه بډای کړي او الله ﷻ پراخ رزق ورکوونکی او ښه پوه دی.

**تشریح**

«الأیامی»: هغه نارینه یا ښځې چې مېړه یا ښځه نه لري، یعني مجردان، کونډې یا طلاق شوې ښځې وي او «أنکحوا» امر دی، یعني واده ورکړئ ، دا آیت د مسلمانانو هڅونه کوي ،څو مجرد کسان واده وکړي؛ څو فحشا لږه شي او ټولنه پاکه وساتل شي همدارنګ دا آیت د ټولنې لپاره د واده د زمینې برابرولو توصیه کوي.

إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ: که واده کوونکي فقیر وي، نو د فقر له امله دې د نکاح مخه نه نیول کېږي.

يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ: الله تعالی ﷻ به هغوی له خپل فضل نه بډای کړي. دا برخه د آیت د ټولنې د عفت، پاکۍ او فقر د حل لپاره واده یو الهي لاره راپیژني. څرنګه چې د حضرت عمر (رضی الله عنه) قول په تفسیر بغوي کې د دې خبرې تائید کوي: (وَقَالَ عُمَرُ: عَجِبْتُ لِمَنِ ابْتَغَى الْغِنَى بِغَيْرِ النِّكَاحِ، وَاللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ: إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ)[1]

ژباړه : زه تعجب کوم له هغه چا څخه ،چې غواړي مالدار شي پرته له نکاح څخه، حال دا چې الله ﷻ عزوجل فرمایلي دي: 'که دوی غریبان وي، نو الله ﷻ به هغوی له خپل فضل څخه مالدار کړي.

دا قول د حضرت عمر (رضی الله عنه) د دې باور څرګندونه کوي،چې نکاح د رزق او برکت یوه وسیله ده، او الله تعالی ﷻ د نکاح کوونکو مرسته کوي، حتی که هغوی بې وزله هم وي.

۲- **د امت زیاتوالي:** اسلام د اولاد زیاتوالي ته هڅونه کوي، څو مسلمان امت پراخ شي اودلیل یې د نبي کریم ﷺدا حدیث دی، چې فرمایي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِالْبَاءَةِ، وَيَنْهَى عَنِ التَّبَتُّلِ نَهْيًا شَدِيدًا، وَيَقُولُ: «تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ؛ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ الْأَنْبِيَاءَ بِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ[2].

۱محیي السنة، محمد (تفسیرالبغوي) ج ۳، ص ۴۱۰، دار إحیاء التراث العربي ،بیروت ، ۱۴۲۰ هـ

۲أبو عبد الله, أحمد بن محمد بن حنبل ، الشیباني, مسند أحمد, (۲۰/۶۳), مؤسسة الرسالة ۱۴۲۱ هـ- ۲۰۰۱ م.

ژباړه: له حضرت انس (رضی الله عنه ) نه روایت دی.رسول الله ﷺ به د واده کولو امر کاوه او له تجرد (یعني له واده نه کولو) نه به یې ډېر سخت منع کول. او فرمایل به یې ، واده وکړئ له هغو ښځو سره ،چې مینه ناکې او زیږنده وي، ځکه زه به د قیامت په ورځ ستاسې په ډېرښت سره د نورو انبیاوو پر وړاندې فخر کوم.

**تشریح**

«الودود»: مینه ناکه ښځه. «الولود»: هغه ښځه چې ډېر اولادونه زېږوي . «التبتل»: له واده نه کول، تجرد غوره کول «مکاثر»: فخر او زیاتوالی ښودل دغه حدیث د نکاح کولو فضیلت او د امت د زیاتوالي لپاره د واده کولو هڅونه کوي.

۳- **د فساد مخنیوی:** څو نکاح ګانې د نارینه و د شهوت د مشروع اشباع یوه وسیله ده، چې د حرامو اړیکو، فحشاء او فساد مخه نیول کېږي. په دې اړه رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ)[1]

ژباړه: عبدالله (رضی الله عنه) وایي ،چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ای د ځوانانو ډلې! څوک چې د واده توان لري، نو واده دې وکړي؛ ځکه چې دا (واده) د نظر د ښکته ساتلو لپاره ډېر اغېزمن دی او د شرم ځای (فرج) د ساتنې لپاره تر ټولو ښه وسیله ده. که څوک د واده توان نه لري، هغه دې روژه ونسيي، ځکه روژه د شهوت پرې کوونکی ده. الباءة: د واده کولو توان (مادي او فزیکي) دا حدیث د اسلام له نظره د واده ارزښت بیانوي، په ځانګړې توګه د شهوت د مخنیوي لپاره روژه دلته د بدیل په توګه معرفي شوې چې د نفس مهارولو کې مرسته کوي.

د ډېرو نکاحګانو رواوالی عام خلکوته نه ده ؛ بلکې هغه هم مشروط دي په لاندې شرطونو سره:

۱- ډېرې نکاحګانې دهغه سړي لپاره جواز لري چې د ښځو او بچو پر نفقه باندې قادر وي همدارنګه په جماع (کوروالي) باندې هم قدرت ولري ،ځکه پر سړي باندې لازمه ده چې دخپلې ښځې ټولې مادي او معنوي اړتیاوو ته لاس رسی ولري؛څو د هغوی سره په پاک دامنی او عفت کی مرسته وکړي که چېرې یو سړی پر دې شیانو باندې قدرت نه لري، نو د هغه لپاره د یوې ښځې ساتل هم جائز نه دي ځکه دا ظلم او ګناه ده.

---

۱ جوزجاني ، سعيد ، سنن سعيد بن منصور خراساني ، ج ۱ ، ص ١٦٤ ، ١٤٠٣هـ -۱۹۸۲م .

۲- د ښځو تر منځ په عدل کولو سره قادر وي هغه کس چې د یوې نه زیاتې ښځې لري، په ټولو مادي او معنوي چارو کې به عدل او مساوات ته پاملرنه کوي که چېرته د ښځو تر منځ په عدل او مساوات سره قادر نه وي نو دویمه نکاح ورته جائز ه نه ده ځکه خدای ﷻ په قران کریم کی فرمايي: وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا [۱]

ژباړه : که وېرېږئ چې د یتیمانو (په حق) کې به انصاف نه کوئ، نو له هغو ښځو څخه چې خوښې مو شي، دوه، درې یا څلور (نکاح) وکړئ. خو که وېرېږئ چې عدالت به نه کوئ، نو (یوازې) یوه (ښځه)

نکاح کړئ، یا له هغو سره چې ستاسې ښي لاسونه یې مالکان دي (یعنې وینځې) دا (یعنې یوه ښځه) ډېر نږدې ده چې ظلم او بې‌عدالتي ونه شي.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایي: مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا،جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ [۲] ژباړه: څوک چې دوه ښځې ولري، خو یوې ته یې زیات تمایل (مینه، توجه) وکړي، نو قیامت ته به داسې راشي ،چې یوه اړخ به یې (د بدن) مایل وي (کوږ وي).

دلته تعادل پر ظاهري بڼه باندې مراد ده اود زړه محبت چې دی، په هغه باندې مواخذه نه شته ،ځکه نبی کریم ﷺ فرمایي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ فَيَعْدِلُ فَيَقُولُ: «اللَّهُمَّ هَذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ، فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ [۳]

ژباړه: عایشه رضی الله عنها روایت کوي، ویې ویل: رسول الله ﷺ به (د خپلو مېرمنو تر منځ) وېش کاوه او عدالت به یې کاوه، بیا به یې ویل: اې الله ﷻ! دا زما وېش دی په هغه کې چې زه واک پرې لرم، نو ما مه ملامته کوه په هغه کې چې ته پرې واک لرې او زه پرې واک نه لرم.

د دې حدیث نه دا څرګندېږي چې رسول الله ﷺ به ظاهري عدالت (وخت، نوبت، مصرف) پوره ساته، خو د زړه مینه (چې د انسان له توان وتلې ده) هغه یې الله ته پرېښودله. پاتې دې نه وي چې د ښځو په منځ کې عدل کول دي یوازې د کور په اوسېدلو پورې اړه لري، د سفر په حالت کې قسم

---

۱ النساء۳

۲ سجستاني ، سلیمان ، سنن ابی داود جلد۲ ص ۲۴۲حدیث ۲۱۳۳ ، المکتبة العصرية، صیدا –بیروت .

۳ مصطفی ، عبد القادر ، المستدرك على الصحيحين للحاكم ج ۲ ، ص ۲۰۴

يعني نوبت له ښځو سره په اوسېدنه کې اړينه نه ده. چې له کومې ښځې سره يې سفر خوښه وي که نمبر يې وي او که نه وي ځان سره يې بيولای شي، ځکه د سفر حالات بېل دي، د اقامت (دکور د اوسېدو)حالت بېل. بيا هم پچه اچونه غوره ده.

**دويم مطلب: په افغاني ټولنه کې د زياتو نکاح ګانو حکمتونه.**

**۱. ټولنيز حکمتونه: (الف) د بې‌سرپرسته ښځو ملاتړ.** د څلورولسيزو جنګونو له امله زيات شمېر ښځې بې مېړه ، فقراو نيستی کې پاتې شوي،نو د ډېرو ښځوسره نکاح کول به يې د دې ستونزو لپاره حل شي څرنګه چې رسول الله ﷺ غوښتل چې د ځينو ښځو په نکاح سره د خلکو زړونه را خپل کړي چې دا يو ټولنيز حکمت ګڼل شوی، لکه دحضرت عايشه رضی الله عنها سره نکاح چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه لور وه او د حضرت حفصه رضی الله عنها سره نکاح چې دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه لور وه، د ځينو ټولنيزو حکمتونو پراساس وو او هغه دا چې رسول الله ﷺ غوښتل چې د نسبي او قومي خپلوي ترڅنګ د خسرګنی د مينې محبت او خپلوۍ ريښې لا پسې ټينګې کړي. څرنګه چې رسول الله ﷺ غوښتل چې د عايشې رضی الله عنها په نکاح سره د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه او د حفصې رضی الله عنها په نکاح سره دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه تر منځ برابري او تعادل وساتي د دوی د لور ګانو سره د رسول الله ﷺ نکاح د هغوی لپاره لوړ عزت او وياړ و، بلکې دا عمل د هغوی لپاره مکافات او پر هغوی لوی احسان بلل کېده.

د رسول الله ﷺ نکاح دخديجة الکبری رضی الله عنها سره هم يو ټولنيز اړخ درلود، ځکه رسول الله ﷺ د (۲۵) پنځويشت کالو په عمر او خديجة الکبری د (۴۰) د څلويښت کالو په عمر وه نبي کريم ﷺ د خديجة الکبری (رضی الله عنها) د عمر ترپای پورې بله ښځه يې په نکاح نه کړه، د خديجة الکبری (رضی الله عنها) له وفات وروسته يې د حضرت سوده بنت زمعه سره نکاح وکړه چې دا هم کونډه وه، د هجرت په څلورم کال يې له حضرت أم سلمة(رضی الله عنها) ، (واسمها هند بنت أمية) [1]چې نوم يې هنده لور داميه وه ، له دې سره نکاح وکړه چې دا هم کونډه وه او زينب بنت خزيمه سره د هجرت په څلورم کال واده وکړ چې دا هم کونډه وه او مېړه يې د احد په جنګ کې شهيد شوی و، له دې ټولو نه معلومېږي ،چې رسول الله ﷺ نکاح ګانې د

۱ مغامسي صالح بن عواد الايام النضرة في السيرة ج ، ۲ ، ص ۱۸ ، ب . ت .

کونډو ښځو سره دشهوت لپاره نه، بلکې د هغوی د زړونو د خوشحالولو لپاره و چې دا ټول یو ټولنیز اړخ لري.

**(ب) د یتیمانو سرپرستي:** د ګڼو ښځو سره نکاح د هغوی اولادونو ته مشروع کور او پالنه برابروي.

**۲. اقتصادي اوسیاسی حکمتونه**

شتمن خلک کولای شي د بېوزله ښځو ملاتړ وکړي، هغوی ته نفقه او سرپناه برابر کړي، چې دا کار د خیر یوه دوامداره لاره ده. لکه چې د رسول الله ﷺ نکاح د ځینو بیبیانو سره سیاسي اړخ درلود، د دې حکمت پر بنسټ رسول الله ﷺ د جویریه بنت الحارث چې د بني مصطلق قبیلي د سردار لور وه خپل قوم سره د مسلمانانو په لاس کې اسیره شوه هغې غوښتل د یو څه مال په ورکولو سره خپل ځان د مسلمانانو له بنده څخه ازاده کړي؛ نو د رسول الله ﷺ څخه د څه مال غوښتنه وکړه رسول الله ﷺ ورسره د مال په ورکړې وعده وکړه او په څنګ کې یې د نکاح وړاندیز ورکړ. هغې د رسول الله ﷺوړاندیز قبول کړ او ورسره یې نکاح وکړه . مسلمانان د دې خبرې په اورېدو سره ویل داځنګه کېدای شي چې د رسول الله ﷺ دوستان له موږ سره په بند کې واوسي، نو ټولو خپل بندیان ازاد کړل. د بني مصطلق قبیلې د مسلمانانو دا مهرباني، محبت، مېړانه او شهامت ولیده؛ نو ټول له یوه طرفه په اسلام مشرف شول.[1]

**۴. ښوونیز اوکلتوري لاملونه**

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ، افغاني ټولنه یواسلامي ټولنه ده او دې ټولنې په تېرو څلورو لسیزو کي د ناامنیو اوناخوالیو له مخې د کونډو ، یتیمانو اوبی سرپرسته کورونیو زیاتېدو سربېره د ټولنې د علمی او فرهنګي زده کړو د پاته کیدو لامل وګرځېد؛ نو اړینه ده ،چې دا نیمګړتیا له هرې مناسبې لارې پوره کړو. او د دې لارونه یوه لاره د ګڼونکاح ګانو لاره ده چې په دې سره ښوونیز اوکلتوري نیمګړتیا تر یوې اندازې حل کېږي . صحا به اوصحابیاتو به د دیني مسایلو په اړه له رسول الله ﷺ نه پوښتنې کولې او دا کار یې عار او شرم نه ګڼلو. رسول الله ﷺ به صحابیاتو ته د شرم له امله د ځینو مسایلو په اړه په څرګنده توګه ځواب نه شو ورکولای نو داسې ښوونکو ته اړتیا وه چې دامت ښځو ته دغه مسایل بیان کړي، په دې اړوند د یوحدیث شریف مضمون را نقلوو (حضرت عایشه

۱ نجار، محمد الطیب ، القول المبین في سیرة سیدالمرسلین، ج ۱ ، ص ٤٠٧ ، ب . ت .

رضی الله عنها روایت کوي چې یوه ورځ د انصارو یوې ښځې د حیض د غسل په اړه له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ هغې ته ښوونه کوله چې څه ډول باید غسل وکړې هغې ته یې لارښوونه وکړه چې د مالوچو یوه خوشبویه ټوټه به را واخلي او په هغې سره به اودس وکړې، هغې بیا وپوښتل چې یا رسول الله ﷺ څه ډول اودس پرې وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اودس پرې وکړه درې ځله یې همدا خبره تکرار کړه . رسول الله ﷺ د شرم له جهته په واضحو الفاظو هغه پوه نه شو کړای، حضرت عایشه رضی الله عنها فرمایي زه د رسول الله ﷺ په مقصد پوهه شوم ، هغه ښځه مې له لاسه ونیوله او ځانته مې رانږدې کړه او هغې ته مې بشپړه طریقه وښودله.[1] داسلام دین د الله ﷻ له لوري د انسانانو لپاره د لار ښونې او ښایسته ژوند د مکمل نظم لرلو په توګه راغلی ،چې د نر او ښځې ګډ او مشترک دین ګڼل کېږي، د دې دین خپرول د نر او ښځې دواړو وجیبه ده، ښځه دټولنې یوه ستره برخه ده ،دینی احکام دواړو ته متوجه دي ، ښځې هم د نارینوو په څېر مکلفې دي چې دغه زده کړې خپل ژوندانه کې پلې او عملي کړي.

**۵ . دوامداره ناروغي**

په دې وخت کې ښځه د مېړه د جنسي غریزې د اشباع کولو جوګه نه وي؛ نو مېړه دې خپله جنسي غریزه په غلطو لارو اشباع کړي؟ نوکه مېړه د همدې ښځې په موجودیت د بلې ښځې سره نکاح وکړي د یوې خوا به د مېړه ستونزه حل شي او له بلې خوا به رنځوره ښځه په نکاح پاتې شي او د ژوند د ټولو ګټو څخه برخمنه شی. د سالم عقل غوښتنه داده چې هم ستونزه حل شي او هم ښځه په نکاح کې پاتې شي.[2] اسلام د دې حالاتو په نظر کې نیولو سره د ګڼونکاحګانو اجازه کړې ده او د خلکو پر مخ یې د دغې ستونزې د حل دروازه خلاصه پرېښې ده ترڅو د ټولنیزفساد مخه ونیول شي.

**٦ - د جنسي غریزې د بې‌ځایه استعمال مخنیوی**

اسلامي شریعت د انسان د فطري اړتیاوو مطابق د سړي لپاره له یوې څخه د زیاتو ښځو سره د نکاح کولو اجازه ورکړې ده، څو د جنسي غریزې د اشباع لپاره یوه مشروع، سالمه او اخلاقي لاره برابره شي. انسان، که نارینه وي یا ښځه، فطري جنسي تمایلات لري، او که دا اړتیاوې د شریعت له

---

۱ صحیح البخاری۲ ص۳۴۳ حدیث ٦٨١٠ .

۲ طنطاوي، محمد سید، تفسرالوسیط لطنطاوی، ج ۳ ۱۱ص ، ۱۹۹۷ م.

اصولو سره سم پوره نه شي، نو امکان لري چې غیر اخلاقي لارو ته متمایل شي که یو نارینه د یوې ښځې څخه زیاته اړتیا ولري او همدا راز په ټولنه کې ښځې زیاتې وي، نو که د تعدد زوجاتو اجازه نه وي، د ښځو ډېره برخه به له نکاح بې‌برخې پاتې شي. په دې حالت کې د هغوی د غریزې د اشباع مشروع لاره نه پاتې کېږي چې دا کار بیا د ټولنیزو فسادونو، فحشا، زنا او نورو غیراخلاقي پدېدو د پراخېدو لامل وګرځي چې دابه د فساد لمنه په ټولنه کې خوره کړي او دغه زیان به نه یوازې داچې تر یوې ټولنې پورې محدوده شي بلکه د مملکت هرې ساحې ته به انتشار وکړي د دی ستونزی د حل ځانګړې لاره د شریعت دی ،چې هغه روا والی د ګڼونکاحګانوده که د دې لارې نه استفاده ونه شي په پایله کی به دواړه جنسونه د بدني کمزوری ؛ عقلي او فکري شکست سره مخ شی . اسلام د دې خطرونو د مخنیوي لپاره د ګڼو نکاحګانو اجازه ورکړې، خو دا اجازه یې د عدالت، توان او اخلاقي مسؤلیتونو د مراعاتولو تر شرط لاندې مشروطه کړې ده . [1]

**پایلیزه**

موږ د دې مقالې له لیکلو وروسته لاندې پایلو ته ورسېدو:

۱- د اسلام له نظره نکاح پېژندل او د ګڼو نکاح‌ګانو روا کیدل په ځانګړې توګه د افغاني ټولنې کومې ستونزې حلوي او څنګه د عدالت، پاکۍ او ټولنیز توازن سبب ګرځي.

۲- د ښځو د حقونو، د نارینه‌وو د مسؤلیتونو توازن ، شرایط، حکمتونه او اغېزې پېژندل.

۳- په ډېرو نکاحګانو سره د کونډو او یتیمانو لپاره سرپرست پیدا کېدل ټولنه د فساد نه ژغورل .

۴- په اسلام کې دوه یا درې نکاحګانې روا والی خوچې لاندې شرایط پکې مراعات شي:

الف: د څلورو ښځو نه زیاتې نه وي؛ ب: په ښځو کې د عدل کولو او د هغوی د حقوق په پوره کولو باندې قادر وي؛ ج: د انکاحګانې په یولړ ټولنیز، شرعي ، فرهنګي او سیاسي حکمتونو بنسټ ولري.

**وړاندیزونه:** د موضوع پایلو ته په کتلو سره لاندې وړاندیزونه اړوند برخو ته وړاندیز کېږی.

- د حج، ارشاد او اوقافو قدرمن ریاست ته وړاندیز کېږي، چې یاده موضوع د عامه پوهاوي په موخه د جامع مسجدونو خطیبانو او اړوند مسؤولینو ته ولېږي؛ څو په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاحګانو ګټې او حکمتونه واضح کړي.

[1] زحیلي، دکتر وَهْبَة ، فقه الاسلامی و ادلته ، ج ۹ ، ص ١٦٤ ، دار الفکر ب .ت .

- د اطلاعاتو او فرهنګ قدرمن رياست ته وړانديز کيږي، چې په افغاني ټولنه کې د ګڼو نکاحګانو حکمتونو او ګټې د ټولنيز تعادل اړوند ملي او فرهنګي غونډېو جوړې کړي؛ څو په ټولنه کې د يادې موضوع ارزښت واضح شي.

**اخځليکونه**


قران كريم

إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / حامد عبد القادر / محمد النجار، المعجم الوسيط, دار الدعوة. ١٣٨١ هـ - ١٩٦١م

ابن حنبل, أبو عبد الله, أحمد ، الشيباني, مسند أحمد,مؤسسة الرسالة ١٤٢١, هـ - ٢٠٠١ م.

ابن عابدين، علاء الدين محمد الدمشقي رد المحتار، دار الفكر ، بيروت – لبنان 1412هـ - 1992م.

ابن كثير،الحافظ عماد الدين ابوالفدا اسماعيل بن كثير: دار الكتب العلمية. (١٤١٩ه)

ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد: دار إحياء الكتب العربية. (١٤٢٢ه)

ابو الفضل ، أحمد بن علي ، فتح الباري ، دار المعرفة - بيروت ، ١٣٧٩

أبو بكر ، عبد الله بن محمد، مصنف في الأحاديث والآثار، مكتبة الرشد ، ١٤٠٩.

أحمد ، البيهقي، مكتبة دار الباز ، مكة المكرمة ، ١٤١٤ – ١٩٩٤

اصبحي، مالك بن أنس بن مالك ، المواطا، الإمارات (1425 هـ - 2004 م)

أكمل الدين ، محمد، العناية ، دار الفكر،ب،ت

بخاري، ابوعبدالله محمد بن اسماعيل البخاري صحيح البخارى، دارالنجاة. (١٤٢٢ه.ق)

بغوى، محيي السنة، أَبُو مُحَمَّدٍ الْحُسَيْنُ بْنُ مَسْعُودٍ بن محمد بن: دار إحياء التراث العربي -بيروت. (1420ه)

ترمذي، محمد بن عيسى ، سنن الترمذي، مكتبة مصطفى البابي ، مصر. (1395 هـ - 1975 م)

جوزجاني ، سعيد ، سنن سعيد بن منصور خراساني ، ١٤٠٣هـ -١٩٨٢م .

زحيلي، د. وَهْبَة بن مصطفى(ب.ت) الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ: دار الفكر - سوريَّة – دمشق.

زيلعي ، عثمان ، تبيين الحقائق ، القاهرة ، ١٣١٣ ه

سجستاني،الحافظ سليمان بن الاشعث الازدي، سنن ابى داود،مكتبة دار احياءالسنه النبوية ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م

صابوني، محمد علي ، روائع البيان تفسير آيات الأحكام ، مكتبة الغزالي - دمشق، مؤسسة مناهل العرفان – بيروت ، 1400 هـ

طنطاوي، محمد سيد،التفسير الوسيط للقرآن الكريم : دار نهضة مصر ، الفجالة - (١٩٩٧ م )

فتاوى هنديه، دار الفكر، ١٣١٠ هـ

مستدرك على الصحيحين للحاكم (1997م)

مسلم, مسلم بن الحجاج نيسابوري ، صحيح مسلم, دار إحياء التراث العربي – بيروت.( 2004) م

مصطفى، عبد القادر، مستخرج أبي عوانة دار المعرفة - بيروت، ١٤١٩هـ- ١٩٩٨م.

مغامسي صالح بن عواد، الايام النضرة في السيرة ، ب .ت

نجار ، محمد الطيب ، ، القول المبين في سيرة سيد المرسلين ، : دار الندوة الجديدة بيروت لبنان ١٤١٦هـ - ١٩٩٦م

ابن نجيم الحنفي ، زين الدين ، (بحرالرائق) دار المعرفة بيروت ، ب، ت.

نيسابوري المعروف بابن البيع، المستدرك علي الصحيحين ، دار الكتب العلمية – بيروت (1411 – 1990)

Two Quarterly
Ainak Academic – Research Journal
Logar University Journal License Date: June/ 2023

# الحكمة فی تعدد النكاح في المجتمع الافغاني

**الاستاذ فخرالدین حامدی**

قِسْمُ التَّعْلِيمِ الإِسْلَامِي كلية الشريعة جامعه لوجر أفغانستان

عنوان البریدالکترونی:fakhroodinhamidi@gmail.com

**المستخلص**

**مشكلة البحث .** تُعدّ مشكلة البحث تعدد الزوجات في المجتمع الأفغاني من القضايا الاجتماعية المهمة والشرعية. فهي تتعلق حقوق النساء، ومسؤوليات الرجال، والتوازن الاجتماعي لذلك تبرز الحاجة إلى دراسة هذا الموضوع في ضوء الأدلة الشرعية، والحقائق الاجتماعية، والوقائع الأفغاني.

**هدف البحث:** هوالتعرف على النكاح ، وبيان حكم تعدد الزوجات فی المجتمع الافغانی مع ذکرانواع النکاح فی ضوء الاحکام الا سلامی.

**منهج البحث**: المواد وطريقة البحث، هذا البحث نوعي (كيفي)، تم فيه الاستفادة من تحليل آيات القرآن الكريم، وأحاديث رسول الله ﷺ، ومن آراء الفقهاء وأدلتهم حول تعدد الزوجات في المجتمع الأفغاني.

**النتيجة:** يبيّن هذا البحث أن إباحة تعدد الزوجات وفقًا لأصول الشريعة الإسلامية قد شُرّعت من أجل تحقيق الحكمة، والعدل، والتقوى، والاستقرار الاجتماعي. وإن الهدف الأساسي من تعدد الزوجات في المجتمع الأفغاني هو حفظ النساء اللاتي لا معيل لهن، والوقاية من الانحرافات الجنسية، وترسيخ العفة، وتحقيق التوازن في نمو المجتمع الإنساني. كما أن لتعدد الزوجات في المجتمع الأفغاني دوافع وأسباب إسلامية وثقافية وتقاليدية مختلفة، تم تناولها وشرحها في متن هذه المقالة.

**الكلمات المفتاحية: : الفقه الإسلامي، المجتمع الأفغاني، الأحكام، تعدد الزوجات.**

الاستناد: الاستاذ حامدي، فخرالدين. (١٤٠٤هـ) .الحکمة فی تعدد النكاح في المجتمع الافغاني

*المجلة العلمية-البحثية نصف السنوية «عينك»*، المجلد ٣، ٥، الصفحات ٢٦٩- ٢٨٧

©حقوق المؤلف. جامعة لوجر.